د افغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د متحدالمآلونو څانګه**

☐ عاجل ☐عادی ☐اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐سایر

د متحدالمآل ګڼه: ۲۱

نېټه: ۱۴۴۴/۲/۱۳ هق

---

**د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!**

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د محترم رئيس الشيخ عبدالحکيم "الحقاني" صاحب په مشرۍ د ستري محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي ديوانونو د محترمو رئيسانو او د مرکزي قضائي رياستونو د رئيسانو صاحبانو په ګډون په تاريخ ۱۴۴۴/۱/۵هق چي د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د اسد مياشتې دولسمي نيټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چي د تصويب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هق په توسط د بعضي موضوعاتو په باره کي پريکړه وسوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شريک سي، په همدغه اساس ياد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شريک سوه چي څوارلسمه موضوع داسي وه:

((د حقوقو او څارنوالۍ موضوع چي په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۷/۲۶هق د مشرتابه محترم عالي مقام سره شريکه سوې وه او داسي هدايت سوی وو چي (د حقوقو او څارنوالۍ موضوع علماء کرامو ته استول سوې ده په دغه باره کي فيصله به د علماء کرامو د نظرونو تر راتګ وروسته وکړو...) اوس د هغه موضوع په اړه د مشرتابه محترم عالي مقام څخه د هدايت غوښتونکي يو.))

په اړه يې د مشرتابه محترم عالي مقام د څوارلسمي فيصلې په اساس داسي هدايت وکړ: ((د حقوقو او څارنوالۍ لپاره به موږ لائحه ترتيب کړو مشکل به ورسره حل سي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د څوارلسمي موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فيصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تميزونو ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته د خبرتيا لپاره واستول شوه.

په درنښت

۱۳ / ۲ / ۱۴۴۴ هق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

---

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af